سلطان جان کلیوال

۲۰۱۸/۰۸/۱٤

# قُربانې !!

مسلمانان په لوی اختر کی ځی مکی ـ کعبی ته

اداکـوی هـلـتـه د حـج فـریـضـــه

او د لـمـانـځـه نـه وروسته          په ګډه ځی د قربانی میدان ته

او د الله (ج) د رضایت د پاره

حـلالـوی د قربـانی پسونه

** * **

خـو پـاکسـتـان کــی مسلـمـان جنـرالان

پـه فـتـواګـانــو د انګـریــز د مــلا

د ذولحجی پـه میاشت کی          " افغانســتــان " تـه راځــی

او د پـسـونـو پـه ځــای

د قــربــانـــی پـه مـنـظـور

حلالوی د مسلمان بچوړی

** * **

ســږکــال نـوبـت د تـمـدن د ښــــارو

د « مـحـمـود » کـور یـــادوم

د «سومنات» اولادی

د خـپـل نیکه د انتقام بدل کی

د محمود کور غزنی ته اور ورته کړ



ارسال مقالات:info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

او د یــاد ګــار ځــلــی یـــی

وینو کی و لمبول.

زما یتیم او بی خاونده ملکه

له هر ظالم نه دی الله (ج) وژغوره

اګست/۲۰۱۳/۱۲

تورنتو ـ کاناډا

S_kliwal_qorbaani.pdf

قـُربــانـــی